پوهندوی آصف بهاند
۲۰۲۰/۰۵/۰۳

# د کورونایي کرنتین په اوږدو کې

## له ماشومانو او کوچنیانو سره د لوږې تاوتریخوالی

### د افغانستان پر ماشومانو او کوچنیانو باندې د تاوتریخوالي سونامي

### اتلسمه برخه

**«ویروس گرسنگي روزانه هشت هزار کودک را میکشد و واکسین آن نیز «غذا» نام دارد، که موجود است. اما شما هرگز در رسانه ها در بارهٔ آن نخواهد شنید، میدانید چرا؟**

**چون گرسنگي ثروتمندان را نمی کشد.»**
(...؟)



بیا هم له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه، دا ځل خبره بل ډول ده، دا ځل له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالی له غیر مستقیم ډول سره مخ یو، دا ځل د کورونا له ناروغۍ نه د یوې بلې رازېږېدلې ستونزې سره لاس گرېوان یو، د لوږې له سونامي سره، هغه هم هغه لوږه چې تر ټولو نه مخکې زموږ د ټولنې ماشومان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

او کوچنیان یې د سونامي تر برید پورې اغیزمن کړې دي. زه  فکر کوم چې د لوږې سونامي به د افغانستان د ماشومانو او کوچنیانو له پاره، تر کورونا هم وژونکې وي.

دغه څو جملې مې چېرې له نظره تېرې شوې وې، چې دلته ډېرې ښې لګېږي او زه به یې راوخلم، خو دا باید ووایم چې زما تېروتنه دا وه چې ما یې د لیکوال نوم او پته نه ده یادداشت کړې، زه به یې پرته له ژباړې کټ مټ دلته کېږدم:

**«ویروس گرسنگي روزانه هشت هزار کودک را میکشد و واکسین آن نیز «غذا» نام دارد، که موجود است. اما شما هرگز در رسانه ها در بارهٔ آن نخواهد شنید، میدانید چرا؟**

**چون گرسنگي ثروتمندان را نمی کشد.»**

دلته باید بیا په تکرار سره وویل شي چې د ټولني کومه ډله انسانان  د ماشوم او کوچني په نوم یادولای شو، زموږ په ټولنه کې لکه ډېرې نورو شیان، دې مسألې ته هم بل ډول کتل کېږي او نړیوال قوانین بل څه وایي.

دا په ټوله نړۍ کې  یو منل شوی حقیقت دی چې د ماشوم او کوچني د حقونو د کنوانسیون  له مخې تر اتلسو کلونو لاندې افراد ټول ماشومان او کوچنیان شمیرل کیږي. د دې مقالې موضوع زموږ د ټولنې هغه وګړي دي چې سن یې تر اتلسو کلونو ټیټ وي.

له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي په باب ما پخوا تر دې هم ګڼې مقالې لیکلې او خپرې کړې دي چې بیا مې د  (د افغانستان له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي ستونزه) تر سرلیک لاندې په یوه ټولګه کې سره راټولې او د ۲۰۱۹ ام عیسوي کال په سپتمبر میاشت کې، په افغان جرمن پورټال کې انلاین کړې.

د هغو مقالو په ترڅ کې ما ډېر ځلې د ماشومانو او کوچنیانو پر سالمه روزنه او له هغوی سره د تاوتریخوالي پر مخنیوي باندې ټینګار کړی و، خو دا دی اوس لویه وبا (کورونا) او د دې وبا تر څنګ د لوږې مسأله رامنځته شوه چې په لومړي ګام کې ماشومان او کوچنیان ځپي.

ما پخوا د همدې مقالو په ترڅ کې ویلي وو چې:

زموږ په هېواد افغانستان کې د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی د یوې داسې سونامي حیثیت لري، چې زموږ د ټولنې په یوې محسوسې او عینې ستونزې بدله شوې ده. دا سونامي تر اوسه زموږ هر نسل، هره لسیزه، هر کال، هره میاشت هره اونۍ، هره ورځ، هر ساعت، هره دقیقه او هره شیبه د سل ګونو، زرګونو، لکونو او میلیونونو ماشومانو او کوچنیانو اوسنۍ او راتلونکې ژوند ځپي او د تباهۍ کندې ته یې ور پورې وهي.

ما د دې کتاب د مقالو په ترڅ کې ویلي او لیکلي دي چې زموږ د ټولنې عینې ستونزو او تجاربو ته په کتو سره، د ماشومانو او کوچنیانو پر ضد تاوتریخوالی په لومړي ګام کې په درېو برخو باید و ویشل شي:

۱ ــ رواني تاوتریخوالی:

(ژبنی تاو تریخوالی: ډارول، ښکنځلې کول، بد رد ویل، تهدیدول او ډول ـ ډول نور رواني فشارونه)،

۲ ــ جسمي تاوتریخوالی:

(وهل ټکول، شاقه کارونه،جګړو ته اړایستل)،

۳ ــ جنسي تاوتریخوال.

خو دا مې هېر شوي وو چې د لوږې سونامي هم په پاسني لست کې وراضافه کړم، ځکه چې شاقه کارونه کوچنیان د لوږې له پاره ترسره کوي نه د هوس له پاره او اوس دا دی د لوږې د سونامي مرګوني ځپې هم زموږ پر خلکو او ټولنې را خورې شوې چې تر ټولو ژر ځیل کېدونکی قشر، ښځې، کوچنیان او ماشومان دي.

له ماشومانو او کوچنیانو سره دا اوسنی تریخوالی که څه هم ډېره سلنه طبعي ریښې لري، یعني کورونا په نا غوښتي ډول راغلې ده، را بلونکی څوک یې مالوم نه دی چې ملامت وګڼل شي؛ خو په حقیقت کې زموږ د ټولنې اوسني او تېر مشران د لوږې د ستونزې مسؤلین دي او د ماشومانو او کوچنیانو د لوږې ملامتیا همدوی ته ورګرځي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که اوسني یا یو ـ دوه ـ درې او... نسله وړاندې مشرانو په صداقت سره کار کړی وای او یوه مرفع ټولنه او پرمختللی اقتصاد مو درلودلی، اوس به موږ هم لکه پرمختللي هېوادونه، په ارامی او پرته له ستونزو ژوند کولای او لاس به مو یوې مرۍ ډوډۍ پسې د ګدایي په دود اوږد نه و.

تاوتریخوالی له هیڅ چا سره ښه نه دی؛ په تیره له ماشومانو او کوچنیانو سره. دا یو تریخ او انکار نه منونکی واقعیت دی چې زموږ په ټولنه کې له ماشومانو او کوچنیانو سره په بېلابیلو بڼو تاوتریخوالی شوی او کېږي او د تاوتریخوالي ترسره کونکي باید په دې پوه کړای شي چې د هرې ټولنې وګړي چې له خپل نوي نسل سره تاوتریخوالی کوي، هغوی په حقیقت کې خپلې راتلونکې ته اور اچوي او هر څه په ایرو بدلوي. د تاوتریخوالي پر ځای باید له نوي نسل سره مینه وشي، په نوي او مدرنه بڼه د وخت له غوښتنو سره سم وروزل شي؛ څو ښه راتلونکي او هوسا ژوند ولري. په دې ډول به موږ وتوانېږو چې ښه پوه نوی نسل ولرو او پایله به یې دا وي چې یوه خورا نیکمرغه او ښېرازه ټولنه ولرو؛ خو اوس نه یوازې یوه مرفع ټولنه او هوسا ژوند نه لرو، بلکې په یوې مرۍ وچې ډوډۍ پسې مو ماشومان او کوچنیان چغې وهي.

د تاوتریخوالي پایلې په ټوله نړۍ کې منفي ثابتې شوې دي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د تاوتریخوالي پر ځای، له هغوی سره مینه وکړئ، د هغوی روزنې ته پاملرنه وکړئ او په ډېرې مینې سره عاطفه ورولېږدوئ.

پرته له شکه چې دا پاسنی خبرې نصیحت ډوله او کتابي بڼه لري چې اوسنیو ستونزو ته په کتو سره اوس د دې سوچ باید وکړای شي چې: څنګه کولای شو چې د لوږې له سونامي څخه د ماشومانو او کوچنیانو ژوند وژغورو؟

له ماشوانو سره د مرستې یوه خیریه بنسټ په خپل نوي رپوټ کې ویلي دي چې همدا اوس په افغانستان کې اوه کامه درې (۷،۳) میلونه ماشومان او کوچنیان د خوراکي توکو د کمبود له خطر سره مخ دي.

د رپوټ په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

«نوي تر لاسه شوي مالومات ښيي چې اوه کامه درې (۷،۳) میلونه ماشومان او کوچنیان د خوراکي توکو د کمبود له خطر سره مخ دي. له ماشومانو او کوچنیانو سره د مرستې یوه خیریه بنسټ هیله څرګنده کړې ده چې له اړو ماشومانو سره دې ژر تر ژره د خوراکي توکو مرسته وشي.»

زموږ په هېواد کې د ستونزو د ډېروالي په وجه، زموږ له ټولنې نه د «آبی، ټوله بی» کیسه جوړه ده، دولت که لږ له خپل جیب نه او څه د بهرنیانو له مرستو څخه، د مرستې په نامه څه برابر کړي، هغه پر ټولنه باندې د حاکم اداري فساد عاملین په یو ډول یا بل ډول خپلو جیبونو ته اچوي او د دوی جیبونه هم د بېلابېلو دلایلو له مخې نه ډکېږي.

د ماشومانو او کوچنیانو د لوږې ستونزې د حل له پاره په مؤقتي ډول، کورني او نړیوال خیریه بنسټونه، ملګري ملتونه او د افغانستان دولتي اړوند موسسات د خوراکي توکو د ویشلو په وخت کې باید ماشومانو، کوچنیانو او ښځو ته په لومړي کتار کې ځای ورکړي او خپلې مرستې لومړي دوی ته ورورسوي.





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ